

# کیدای شي په آسانۍ سره د سربو نښو نښانو ته مو پام نشي. زما په څېر.

VDH VIRGINIA DEPARTMENT OF HEALTH

## د سربو د خطر سره د خلکو د مخ کېدو او د زیان د مخنیوي د څرنګوالي په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کړئ.

له هغه وخت څخه پېړۍ تیریږي چې سرب د کور په رنګونو او د اوبو په پایپونو کې کارول کېدل. په همدې حال کې د سربو خطر اوس هم موږ ګواښي.

**په خوله کې د توکو له نیولو سره د ماشومانو لیوالتیا لرل دا معنی لري چې هغوی په ځانګړي توګه له خطر سره مخ دي. د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکزونه (Centers for Disease Control and Prevention، CDC) اټکل کوي چې 500,000 امریکایي ماشومان په خپله وینه کې په لوړه کچه سرب لري.**

له نیکمرغه، یو شمېر ساده مرحلې شته دي چې تاسو کولای شئ د خپلې کورنۍ د خوندیتوب لپاره یې په پام کې ونیسئ.

### په وینه کې د سربو هیڅ خوندي کچه نشته ده.

حتی په ټیټه کچه د سربو له خطر سره مخ کېدل هم کولای شي د زده کړو او ودې په برخه کې د ماشوم وړتیا ته زیان ورسوي. له دې امله، مهمه ده چې هغه ماشومان چې د سربو له خطر سره د مخ کېدو له ګواښ سره مخ دي په ځانګړي توګه د 1 او 2 کلنۍ په عمرونو کې معاینه شي.

### سرچیني وپېژنئ

د پخوانیو سرنګونو سربېره، په نورو مشهورو سرچینو کې د پخوانیو پایپونو څخه اوبه، سرب لرونکي خاوره او یو شمېر د ماشومانو د لوبو وارداتي توکي او ګاڼې شاملې دي.

### نښې نښانې وپېژنئ

په ماشومانو کې د سربو له خطر سره د مخ کېدو د اغیزو پېژندل سخت دي. ګڼ شمېر ماشومان د ناروغۍ ځرګندې نښې نښانې نه ځرګندوي، مګر د سربو له خطر سره مخ کېدل کولای شي چلندیزې، د اورېدو او خبرو کولو ستونزې رامنځته کړي. له همدې امله، که چېرې تاسو فکر کوئ چې ماشوم له خطر سره مخ شوی دی، غوره ده چې د خپلې روغتیایي پاملرنې د خدمتونو له چمتو کوونکي سره د وینې د معاینې د ترسره کولو په اړه خبرې وکړئ.

### په عملي ډول مخنیوی ترسره کړئ

خپل کور وګورئ. که چېرې تاسو په داسې کور یا اپارتمان کې ژوند کوئ چې له 1978 څخه وړاندې جوړ شوی وي، هغه د سربو د یوه تایید شوي پلټونکي په واسطه وګورئ. ستاسو د اوبو چمتو کوونکی هم کولای شي تاسو ته ووایي چې آیا ستاسو کور ته سرب لرونکي پایپونه نښلول شوي دي او که نه.

### معاینه وکړئ

د خپلې روغتیایي پاملرنې د خدمتونو له چمتو کوونکي سره د خپل ماشوم لپاره په وینه کې د سربو د معاینې ترسره کولو په اړه خبرې وکړئ. د پایلو پر بنسټ، د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي کولای شي د راتلونکو اقداماتو او پاملرنې په اړه سپارښتنه وکړي.

**لا زیات معلومات ترلاسه کړئ:** په سربو باندې د مبتلا کېدو یا مسمومیت په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره **vdh.virginia.gov/leadsafe** ته مراجعه وکړئ.